# عربي

# ۱۱ درسونه

د اَلعَرَبِيَةُ بَيْنَ يَدَ يْکَ دوهم کتاب ته چمتووالی

علي احمد (عادل)

سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

عربي ۱۱ درسونه

عربي ۱۱ درسونه

وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا


| د درس شمېره | د درس سرلیک | د پاڼي شمېره |
|---|---|---|
| اول درس | مبتـــداء اوخبـــر | ۱ |
| دوهم درس | مضاف اومضاف اليه | ۴ |
| دریم درس | ماضـــي فعـــلونه | ۶ |
| ځلورم درس | عربـــي جمـــله | ۸ |
| پنځم درس | حـــرف جـــر | ۱۰ |
| شپږم درس | ضميـــرونه (ضمايـــر) | ۱۲ |
| اووم درس | مضـــــــارع | ۱۵ |
| اتـــم درس | موصوف او صـــفت | ۱۸ |
| نـــهم درس | امـــر اونـــهي | ۲۱ |
| لـــسم درس | واحد، تثنيه اوجمع | ۲۶ |
| يوولسم درس | اسمـــاءِ اشـــارات | ۲۸ |


تاليف، كمپوز او ډيزاين


علي احمد (عادل)

۰۷۰۸۲۳۵۷۵۸


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com




سرچینه: **http://www.taleemulislam-radio.com**

# مبتداء او خبر

محمد (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ) رسول دئ .منصورمعلم دئ ،
محمود عالم دئ ،کر یـم نجار دئ ، منیـر طالب دئ .

پورتنۍ اودې ته ورته جملو ته په عربي ژبه کي مبتداء اوخبر ویل کیږي . اوکه وغواړوچي همدا عربي ته واړوو نو:لومړی: د (دئ) توری دجملې د پای څخه ختموو،بیا دواړو کلمو ته په اخیرکي دوه دوه پېښونه (ضمې-ُ) ورکوو، مثلاً:محمد رسول دئ -مُحَـمَّدٌ رَسُوْلٌ منصورمعلم دئ – مَنْـصُوْرٌمُعَلِّمٌ ، مُبیـن فاتـح دئ - مُبِیْـنٌ فَا تِـحٌ محمـود عالم دئ -مَحْمُوْدٌ عَـالِمٌ ، کر یم نجار دئ - کَرِیْمٌ نَـجَارٌ منیـرطــالب دئ – مُنِـیْرٌطَـالِبٌ .داڅو هغه ډول جملې وې چي په پښتوجملو کي هم عربي کلمې کارول سوي وې،مثلاً:د فا تح ،عالم نجار او طالب کلمې ، اوکه په پښتـوجمله کي عربي کلمې نه وي بیا نولومړی دجملې کلمې عربي تـه ژباړو،بیا وروسته په هم هغه یاده طر یقه د(دئ) کلمه ختموو بیادواړوکلمو ته پېښونه ورکؤمثلاً:ناصر ملګری دئ . په دا جمله کي د دوست د کلمې ژباړه په عربي سره (صَدِیْقٌ) ده،نوپه عربي جمله کي داډول جوړیږي:نَاصِرٌصَـدِیْقٌ. په لوړوجملو کي هره اوله کلمه یوخاص نوم ( مــعرفــه اســـم یا - proper noun )دئ،او که چیري همدا اوله کلمه یوخاص نوم نه وي ، بلکه یو عام نوم ( نکِره اسم Common noun ) وي نو د کلمې په پیل کي (اَلْ) راوړل کیږي . مثـلاً: که دا یوه جمله وګورو :



سرچینه:http://www.taleemulislam-radio.com

# مبتداء او خبر

محمود عالم دئ - مَحْمُوْدٌعَالِمٌ . نوکه په دا جمله کي د محمود پرځای يوسړی وو يل سي نو د ( رَجُلٌ ) پرکلمه (اَلْ) راوړل کيږي او اَلرَّجُلُ عَالِمٌ ويل کيږي . اوکله چي پر يوه کلمه (اَلْ) راوړل سي بيابه هغې کلمې ته د دوو پېښو پرځای يو پېښ پا تيږي لکه:رَجُلٌ په اَلرَّجُلُ سره.اوداسوال پيدا کيږي چي د(اَلْ)توري څه وخت پر اسم ز ياتيږي ؟ جواب : لومړی : کـه په هر اسم کي خصوصيـت پيدا کول وغواړو نو : پرهغه کلمه (اَلْ) راوړو، مثلاً :د رَجُلٌ ژ باړه په سړي سره کيږي ،هغه که هرسړی وي ،اود اَلرَّجُلُ ژباړه بيا په يو خاص سړي سره کيږي لکه: (هغـــه سړی) . او کـله بيـا (اَلْ) د پوره مقصد (پوره والي اوکامل والي)دپاره کار يږي،لکه:د اَلْاِنْسَانُ څخه مقصد نوع (ډول) دانسان دئ (man kind هر يوانسان ) ، اود اَلْحَمْدُ څخه مقصد هم:هرډول اوټول تعر يف اوستاينه ده. او په انګر يزي کي چي چيري د (The) کلمـه کار يږي هلته پــه عربي کي د (اَلْ) توري پراسم ور ز يا تيږي .

اوس دخاص اسم څومبتداءاوخبرجملې عربي ته وژباړئ :

حامد پــلاردئ - حَامِـدٌ اَبٌ ، محمود زوی دئ - مَحْمُوْدٌ اِبْنٌ

خالــد ا کا دئ -خَـالِدٌ عَـمٌّ ، ز يـــد ماما دئ - زَ يْـدٌ خَـالٌ

سعيد نيکه دئ - سَعِيْدٌجَـدٌ ، حبيب لمسی دئ - حَبِيْبٌ حَفِيْدٌ

اوس د عام اسم څومبتداء اوخبرجملې عربي ته وژباړئ:



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مبتداء او خبر

سړی قوي دئ -اَلرَّجُلُ قَوِیٌّ ، هلک کمزوری دئ -اَلطِّفْلُ ضَعِیْفٌ
يخی يــخ دئ -اَلثَّــلْجُ بَارِدٌ ، اوبــه خــوږې دي -اَلْمَـاءُ عَــذْبٌ
وروړعبادتناکه دئ-اَلْاَخُ عَابِدٌ، پــلار نېــک دئ -اَلْاَبُ صَالِــحٌ .
اوکه دمبتداءاوخبردجملې اوله کلمه (مبتداء) ښځينه يامؤنث وي
نوور پسې کلمه (خبر)به هم مؤنث جوړ يږي اودمؤنث والي دپاره
يې نښه (ة) کار يږي مثلاً :اَلرَّجُلُ صَالِحٌ - هغه سړی نېک دئ. که
د ( رَجُلٌ ) پرځای ښځه وايو نو ( اَلْمَـرْاَةُ ) وايو او جـمله يې داسي
جوړ يږي : اَلْمَـرْاَةُ صَالِحَةٌ - ښځه نېکه ده ، اَلْمَرْاَةُ عَالِمَةٌ - ښځه
عالمه ده .

اودهمدا مؤنث لپاره څومبتداء اوخبر جملې عربي ته وژباړئ :
خورنېکه ده-اَلْاُخْتُ صَالِحَةٌ،اَمه شُکرايستونکې ده -اَلْعَمّةُ شَاكِرَةٌ
فاطمه هوښياره ده - فَاطِمَةُ عَاقِلَةٌ ، خاله باادبه ده -اَلْخَالَةُ مُؤَدَّبَـةٌ.

اوس دڅو عربي مبتداء اوخبر جملو پښتو ژباړه وکړئ :
اَللّٰهُ رَبٌّ ، مُحَــمَّدٌ نَبِيٌ ،اَلرَّسُوْلُ صَــادِقٌ ، اَلصِّــرَاطُ الْمُسْتَـقِيْـمُ،
اَلْاِسْلَامُ دِيْنٌ ، اَلْاِنْسَانُ عَبْدٌ، خَالِدٌ قَائِدٌ ، اَلْاَخُ كَرِيْمٌ ، اَلسَّاعَةُ اٰتِـيَةٌ،
عُمَرُمُجَاهِدٌ ،اَلبِنْتُ مُؤَدَّبَةٌ ، اَلْخَالُ عَاقِلٌ وَالْعَمُّ ذَكِيٌّ،طَارِقٌ شُجَاعٌ.






سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مضاف او مضاف الیه

درسول حکم ، دمحمودقلم ، دحامد معلم ، د فر ید کور، دمنیرکتاب، د ښارمرکز ، د زروګوتمۍ . داټول مضاف او مضاف الیه دي، که وغواړو چي دا ډول پښتو جملې عربي ته وژباړو نو لومړۍ د پښتو د (د)توری ختموو،بیا یې د پښتو ترتیب څخه و عربي ترتیب ته اړوو یعني:د (د) دتوري د ختمولو وروسته اوله کلمه وروسته کوو اودوهمه کلمه رامخته کوو،مثلاً : دمحمود قلم لومړۍ د (د)توری ختموو بیا،اوله کلمه وروسته ته اودوهمه کلمه مخ ته سره اړوو، یعني : اول قلم لیکو او پر اخیري توري پېښ یاضمه ـُ ورکوو، بیا د محمود کلمه لیکواود کلمې په اخیرکي دوه زېرونه ـٍ ورکوو، لکه : قَلَمُ مَحْمُوْدٍ ، حُکْمُ رَسُوْلٍ ، مُعَلِّمُ حَامِدٍ بَیْتُ فَرِیْدٍ ، کِتَابُ مُنِیْرٍ ، مَرْکَزُ بَلَدٍ ، خَاتَمُ ذَهَبٍ . د(اَلْ) یادونه په مبتداءاوخبر درس کي سوې وه چي د(اَلْ)په راوړلو سره به اسم یوخاص اسم جوړېدئ او د دوو پېښو پرځای به داسم اخیر ته یو پېښ پاتېده، اودلته په مضاف الیه کي هم د(اَلْ)په زیاتولوسره د اسم په اخیرکي د دوو زېرو پرځای یوزېر پا تیږي مثلاً: د خَاتَمُ ذَهَبٍ په جمله کي : که د (ذَهَبٍ) پر کلمه د (اَلْ) توري زیات کړل سي نو خَاتَمُ الذَّهَبِ ویل کیږي. خودلته یوه خبره مهمه ده چي پر اوله کلمه (مضاف) باندي هیڅ کله هم د (اَلْ) توري نه راوړل کیږي، مثلاً :دخَاتَمُ الذَّهَبِ په جمله کي د(خَاتَمُ) پرکلمه (مضاف)



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مضاف او مضاف اليه

باندي (اَلْ) هيڅ کله هم نه راوړل کيږي .يعني اَلْخَاتَمُ الذَّهَبِ نه ويل کيږي . کله چي يو اسم وبل اسم ته ور زيـــات کړل سي اود دواړواسمونوڅخه يواسم جوړسي نوهمدا ته مضاف اومضاف اليه ويل کيږي .اومضاف هغه ته و يل کيږي چي نسبت ( اضافه والئ ) يې بل ته سوئ وي اواخيرته به يوحرکت(ـُ)لري،يعني(ـٌ)به نه لري اومضاف اليه هغه تـه و يل کيږي چي د بل نسبت و همده ته سوئ وي .مثلاً: قَلَمُ مَحْمُوْدٍ کښي دقلم نسبت او اصافه والئ و محمـــود ته سوئ دئ نوځکه مضاف بـلل کيږي، اومحمود مضاف اليــه دئ.

اوس څوپښتومضاف اومضاف اليه جملې عربي ته واړوئ:

دکـور دېـوال - جـِـدَارُ دَار ، دخـوني کلکين -شُبَّا کُ الْحُجْرَةِ ، دمېـــزلرگی - خَشَبُ الْمِنْضَدَةِ ، دکورچت -سَقْـفُ الْبَيْـــتِ ، داوسپني کټ -سَرِ يْــرُحَـدِيْـدٍ ، دمحمود کټ-سَرِ يْرُمَحْمُـوْدٍ ، دلمـر گرمـي -حَـرُّالشَّــمْسِ ، د دابښت اور -نَـارُ مَــوْقَــدٍ، دکتابچې کاغذ-قِرْطَاسُ کُرَاسَةٍ،دتوپک گولۍ-اَلرَّصَاصَةُ بَنْدُوْقٍ

او اوس څو عربي مضاف اومضاف اليه جملې پښتو ته واړوئ :

يَوْمُ الدِّيْنِ ، رَيْبُ الْاِنْسَانِ ، اِقَامَةُ الصَّلٰوة ، اِيْتَاءُ الزَّکَاة ، اِنْفَاقُ الْمَالِ ، لِقَاءُ الصَّدِيْقِ ، سُفَهَاءُ الْبَلَدِ ، طُغْيَانُ النَّاسِ ، اِسْتَيْقَادُ النَّارِ ، ضَوْءُ السِّرَاجِ ، حَوْلُ الْمَدِيْنَةِ ، ظُلْمَةُ اللَّيْلِ ، صَوْتُ الرَّعْدِ اَصَابِعُ الرِّجْلِ ، مَاءُ الثَّلْجِ ، خَشَبُ الْبَابِ ، اِبْنُ الرَّجُلِ ... .



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# ماضي فعل



دتېرحالت د کړني یعني ماضي فعل (Past tense) د درس تر پیـل مخکي دخبرو درې ګډون وال در پېژنو :

لومړی: متکلم (خبري کوونکی)، دوهم : مخاطب (هغه چي خبري ورته کیږي)، دریم : غایب (چي د هغه په هکله خبري کیږي، که څه هم په مجلس کي حاضرنه وي). او مخاطب او غایب هر یو نارینه او ښځینه (مُذکراو مؤنث) او همدا ډول دیوه، دووار ډیرو (مفرد، تثنیه اوجمع) حالتونه لري، اومتکلم بیا دنارینه اوښځینه (مُذکراومؤنث) دواړو لپاره یوډول ضمیرونه لري. اود (دوه ګونی) تثنیه حالت نه لري.

د ماضي جدول

| دفاعل حالت ← | غایب | مخاطب | متکلم |
|---|---|---|---|
| مفرد مذکر | فَعَلَ | فَعَلْتَ | فَعَلْتُ |
| تثنیه مذکر | فَعَلَا | فَعَلْتُمَا | فَعَلْنَا |
| جمع مذکر | فَعَلُوْا | فَعَلْتُمْ | فَعَلْنَا |
| مفرد مؤنث | فَعَلَتْ | فَعَلْتِ | فَعَلْتُ |
| تثنیه مؤنث | فَعَلَتَا | فَعَلْتُمَا | فَعَلْنَا |
| جمع مؤنث | فَعَلْنَ | فَعَلْتُنَّ | فَعَلْنَا |

# ماضي فعل

| غایب | مخاطب |
|---|---|
| فَعَلَ : هغه یوه سړي کار وکړئ | فَعَلْتَ : تا یوه سړي کار وکړئ |
| فَعَلَا : دوی دووسړیو کار وکړئ | فَعَلْتُمَا: تاسودووسړیو کار وکړئ |
| فَعَلُوْا: دوی ډیرو سړیو کار وکړئ | فَعَلْتُمْ: تاسوډیرو سړیو کار وکړئ |
| فَعَلَتْ: دې یوې ښځې کار وکړئ | فَعَلْتِ : تا یوې ښځې کار وکړئ |
| فَعَلَتَا :دوی دوو ښځو کار وکړئ | فَعَلْتُمَا: تاسو دوو ښځو کار وکړئ |
| فَعَلْنَ: دوی ډیرو ښځو کار وکړئ | فَعَلْتُنَّ :تاسوډیرو ښځو کار وکړئ |

**متکلم**

فَعَلْتُ : ما یوه سړي کار وکړئ
فَعَلْنَا : موږډیرو سړیو کار وکړئ

مهمه ده چي لوړي (۱۴) صیغې د ( زور، زېر او پېښ ) په پاملرنه سره یادي کړو ،خوکه دچا د(فَعَلَ) پرځای (ضَرَبَ)یاد وي هم سمه ده او ضَرَبَ د وهلو په معنیٰ دئ ، یعني هغه یوه سړي وهل وکړه.

اوس څوعربي صیغې وپښتو ته وژباړئ اوحالت یې وښایاست

نَصَرُوْا ، ضَرَبْتُمْ ، وَضَعَ ، ذَهَبَتَا ، طَبَخَا ، وَصَلْتَ ، ذَهَبْتُمَا
ضَرَبَتْ ، دَخَلْتُ ، صَنَعْتِ ، وَجَدْتُّنَّ ،اَکَلْنَ ، رَجَعْتُمْ ، کَتَبْنَا

اوس څوکلمې له پښتو څخه عربي ماضي ته واړوئ

ما ولیکئ ، هغوخلګو وو یلئ ، تا واوربدئ ، تاسو ښځوجارو کړئ .



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

# فعليه جمله

دعربي جملې په ترکيب کي اول فعل ( Verb )، بيا فاعل ( Subject ) اوبيا مفعول ( Object ) وي . فاعل ته په اخيـر کي پېښ (ضَمَّه) او مفعول ته زوَر (فَتْحَه) ورکول کيږي .

(فِعل) وکار کولو ته ،اوفاعل وکارکونکي ته و يل کيږي، اوهغه څه چي کار پر وسي وهغه ته مفعول و يل کيږي. مثلاً: حامد د محمود کومک وکړئ.په داپښتو جمله کي(کومک وکړئ) فعل دئ، حامد فاعل(کارکوونکی)اومحمودمفعول دئ.که غواړوهمداجمله عربي ته وژباړو نو: لومړی د (کومک وکړئ) ژباړه ليکو، بيا فاعل(حامد) ليکواواخيرتوري ته يې دوه پېښونه ورکوولکه(حَامِدٌ)،اوبيامفعول (محمود)ليکواواخيرتوري ته يې دوه زوَرونه ورکوولکه(مَحْمُوْدًا). جمله : نَصَـرَ حَامِــدٌ مَحْمُـودًا. اوس يوه بله جـمله هم گورو : خدمتگار دروازه خلاصه کړل . (خلاصه کړل) ماضي فعل دئ ، او (خدمتگار) فاعل يا کارکونکی دئ، او(دروازه) مفعول دئ يعني پر دروازه کارترسره سوی دئ.نود(فعل فاعل مفعول)په ترتيب سره يې عربي ته اړوو ،بيا فاعل ته دوه پېښونه اومفعول ته دوه زوَرونه (فَتْحَې ً)ورکوو، نوجمله داسي جوړ يږي :فَتَحَ خَادِمٌ بَابًا .خوکه د خصوصيت ياڅانگړتياد (اَلْ) توري پرفاعل اومفعول باندي ز يات سوي وي نوهلته بيا پر فاعل بـاندي يو پېښ اوپرمفعول باندي يو زوَر(فتحه َ) پاتيږي لکه: فَتَحَ الْخَادِمُ الْبَابَ .



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# فعليه جمله

اوس څو پښتوجملې عربي ته وژباړئ :

جميل كتاب وويلئ . (قَرَاءَ) ، نصيرمحمود منع كړئ . (مَنَعَ) ، خالد ليک وليکئ. (كَتَبَ)، طارق دښمن مات كړئ. (هَزَمَ)، ماما ډوډۍ وخوړل.( اَكَلَ) ، ښځو ګيلاس مات كړئ. (كَسَرْنَ) ، موږ مسجد ته ولاړو.(ذَهَبْنَا) او اوس څوعربي جملې پښتو ته وژباړئ :

جَعَلَ اللهُ مُحَمَّداً رَّسُوْلاً وَالْاِسْلامَ دِيْناً ، خَدَعَ الشَّيْطَانُ الْاِنْسَانَ ، نَقَضَ الْفَاسِقُ عَهْدَاللهِ وَسَمِعَ الْمُسْلِمُ كَلَامَ اللهِ ، ضَرَبَ رَجُلٌ مَثَلاً ، فَرَقْنَا الْبَحْرَ وَ اَغْرَقْنا اٰلَ فِرْعَوْنَ ، اَنْزَلَ اللهُ الْمَطَرَ وَ اَنْبَتَ النَّبَاتَ .

( فَعَلَ: هغه يوه سړي كاروكړئ ) همدې ته معلوم يا معروف فعل (Active voice)ويل كيږي څكه چي كاركوونکی(فاعل)يې معلوم دئ مثلاً: ضَرَبَ اَحْمَدُطِفْلَ يعني احمد كوچنی ووهئ.دلته دكوچني دوهلــو فعل احمد ترسره كړئ دئ چي فـاعل(احمد) په جمله كي معلوم دئ، خوكه په جمله كي كاركوونکی (فاعل) معلوم نه وي نــو فعل د( فَعَلَ) پرځای (فُعِلَ) ويل كيږي يعني:(ف) ته پېښ او(ع) ته زېروركول كيږي اوهمدې فعل ته مجهول فعل (Passive voice) و يل كيږي ، او د( ضَرَبَ اَحْمَدُ الطِّفْلَ ) دجملې څخه كه وهونکئ احمد (فاعِل)نه يادوونوجمله داسي جوړ يږي:(ضُرِبَ الطِفْلُ) يعني ( كوچني ووهل سو ) خودلته وهونکئ معلوم نه سو.اوهمدا ډول:

فُعِلَا ، فُعِلُوْا ، فُعِلَتْ ... يا ضُرِبَ ، ضُرِبَا ، ضُرِبُوْا ،ضُرِبَتْ ... .



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# حرفِ جَر



مِنْ (د- څخه) : مِنَ الْمَسْجِدِ – دمسجد څخه ، فِيْ (پکښې) :فِيْ الْبَيْتِ – په کورکي ، اِلیٰ (وطرف ته) اِلَی الْمَدْرَسَةِ – ومدرسې ته عَلیٰ (پر):عَلَی الْبَابِ – پردروازه، عَنْ (دهغه څخه):عَنِ الْمَسْجِدِ دمسجد څخه، بِ (په وسیله یا واسطه):بِاالسَّیَّارَةِ -په موټر سره، لِ (دپاره):لِلْعَمَلِ – دکاردپاره ، حَتیٰ (ترهغه پوري):حَتٰی تَنَامُ ترهغوچي ته بیدېږې ، داسم په سرکي : کَ (په مثال سره /لکه) کَکِتَابُکِ – لکه ستا قلم ، وَ (قسم): وَاللهِ - په الله (جل جلاله) قسم.

مِنْ،فِيْ،اِلی،عَلی،عَنْ،بِ،لِ،حَتیٰ،کَ،وَ

همدا لسوحروفوڅخه هر یــوه ته حرفِ جَر(Preposition) ویـل کیږي ، کله چي یو(حَرف جَر) دیو اسم مخ ته راسي نو هغه اسـم به په اخیرکي ز ېر ( کَسْره ) پیدا کوي .مثلاً: خالِدٌ ، اَلْبَیْتُ ، اَلْمَسْجِدُ ، اَلسَّطْحُ . اوکه یو( حرف جر ) پرمختته سي بیانـوداسم اخیري توری ز ېر پیدا کوي . لکه : مِنْ خَـالِدٍ اِلَـی الْبَــیْتِ،فِیْ الْمَسْجِدِعَلَی السَّطْحِ .

اوس څوپښتوجملې عربي ته وژباړئ:

جمیل دکلي څخه ښارته ولاړئ، ما په کورکي اوبه وڅښلې ، تا په قلم لیکل وکړه ، ته دکورڅخه لیري یې ، ستا دلیدو لپاره راغلم ،تـرڅوچي محمود راځي دلته کښېــنه ، ستا قلم لکه دعُمرقلم.



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

# حرفِ جَر

اوس څوعربي جملې پښتوته وژباړئ اوحرف جَر پکښې پيداکړئ:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، فِيْ الْقُرْاٰنِ هُدًى لِّلنَّاسِ ، اَلسَّبْتُ لِلْيَهُوْدِ ،قَرَءتُ جُزْءً مِّنَ الْقُرْاٰنِ يَوْمَ الْخَمِيْسِ وَالْجُمُعَةِ ، لِلْمُسْلِمِ فِيْ الـدُّنْيا حَسَنَةٌ وَّ فِيْ الْاٰخِرَةِ حَـسَنَةٌ ، كُتِبَتِ الصَّلوٰةُ عَلَى الْمُسْلِمِ، اَلسَّحَابُ مُسَخَّرٌ بَيْنَ السَّماءِ وَالاَرْضِ،اٰمَنْتُ بِمَااُنْزِلَ اِلَيْکَ، وَقَعَ الذُّبَابُ فِيْ الْمَاءِ.

**تَ ، مُذْ-مُنْذُ ، رُبَّ ، خَلَا ، حَاشَا**

دحرفِ جراووه(۷)نورتوري هم سته کوم چي ډېرلږاستعماليږي

لکه:تَ (دقَسَم دپاره) دا توری د الله (جل جلاله) دنـوم سره دقسم دپاره ځانګړی دئ لکه: تَا الله ، مُـذْ – مُنْـذُ (را وروسته) دزمانې سره استعماليږ ي.لکه: ما ذَهَبْتُ اِلَى الْمَدْرَسَةِ مُنْذُ يَوْمِ الْجُـمُعَةِ ،مُنْـذُ اَنْ خَلَقَ اللهُ اٰدَمَ ، رُبَّ ( څومره – څومره ډېر-لږ ) د رُبَّ وروسته اسم همېشه واحد ( يو ) استعما ليږي . لکه : رُبَّ رُجُلٍ نَصَرْتُهُ ، خَلَا (بغيرد) :ضَرَبْتُ الْاَطْفَالَ خَلَا کَرِيْمٍ ، حَاشَا (بغيرد): مَنَعْتُ الرِّجَالَ حَاشَا عَمْرٍو ، عَدَا (بغيرد):جَاءَ الْقَوْمُ عَدَا خَالِدٍ .






سرچينه:http://www.taleemulislam-radio.com

# ضمائر(ضميرونه)

عموماً ضماير(Pronouns) پردوه ډوله دي :(مُنْفَصِلْ اومُتصِلْ)

لومړی منفصل ضميرونه (د فعل يا اسم ځخه مخکي ضميرونه):

منفصل ضميرونه

| دفاعل حالت | غايب | مخاطب | متكلم |
|---|---|---|---|
| مفرد مذكر | هُوَ | اَنْتَ | اَنَا |
| تثنيه مذكر | هُمَا | اَنْتُمَا | نَحْنُ |
| جمع مذكر | هُمْ | اَنْتُنَّ | نَحْنُ |
| مفرد مؤنث | هِيَ | اَنْتِ | اَنَا |
| تثنيه مؤنث | هُمَا | اَنْتُمَا | نَحْنُ |
| جمع مؤنث | هُنَّ | اَنْتُنَّ | نَحْنُ |

همدا فاعلي مرفوع (Subjective Pronouns) يا منفصل ضميرونه دي چي په جمله کي د(فاعل) پرځای دفعل يا اسم ځخه مخکي راوړل کيږي ، نودفاعل دځای نيوني په خاطر دفاعل په ډول ټوله مرفوع وي.

---

په فاعلي مرفوع ضميرونوکي متصل يا مبنتي ضميرونه هم سته . لکه ( تَاءُ الْمُتَكَلِمْ-تُ ، تاءُالْمُخَاطَب -تَ ، تَاءُالْمُخَاطَبَة -تِ ، نَاءُالْفَاعِلِيْن-نَا، اَلِفِ الْاِثْنَيْنِ -اْ ، وَاوُالْجَمَاعَةِ -وْا ، نُوْنُ النِّسْوَةِ -نَ ) . اودا ضميرونه تر



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# ضمائر (ضميرونه)



اسم وروسته نه راځي بلکه همدا فقط دفعل وروسته راتلای سي:

لکه: (حَضَـرْتُ، حَضَـرْتَ، حَضَـرْتِ، حَضَـرَتْ، حَضَـرْنَا، حَضَـرَا، حَضَـرُوْا، حَضَـرْنَ) یاپه بل ډول: ( تاءُ المتكلم - اَ نَا حَضَـرْتُ ، تَاءُالْمُخَاطَب - اَنْتَ حَضَـرْتَ ، تَاءُالْمُخَاطَـبَة - اَنْتِ حَضَـرْتِ ، نَاءُالْفَاعِلِيْـن - نَحْنُ حَضَـرْنا ، اَلف الْاثْنَـيْن - هُمَـاحَضَـرَا ، وَاوُالجَمَـاعَة - هُـمْ حَضَـرُوْا ، نُوْنُ النِّـسْـوَةِ - هُنَّ حَضَـرْنَ ).

---

او اوس هغه مُتصل یا مبنتي ضمیرونه چي تر اسم ، حرف اوفعل هر یوه وروسته راتلای سي اود منصوب یا مجرورحالت به ولري.

## متصل ضمیرونه

| دفاعل حالت← | غایب | مخاطب | متكلم |
|---|---|---|---|
| مفرد مذكر | هُ | كَ | يْ |
| تثنیه مذكر | هُمَا | كُمَا | نَا |
| جمع مذكر | هُمْ | كُمْ | نَا |
| مفرد مؤنث | هَا | كِ | يْ |
| تثنیه مؤنث | هُمَا | كُمَا | نَا |
| جمع مؤنث | هُنَّ | كُنَّ | نَا |



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

دهمدا (۱۴) ضميرونوڅخه که هر يودفعل وروسته راسي نو معلومه ده چي پردغه ضميرهمدافعل ترسره سوئ دئ نوځکه ورته مفعولي ضميرونه (Objective Pronouns)يا منصوب ضميرونه ) ويل کيږي.لکه :نَصَرْتُهُ ، اَمَرْتُکَ ، نَصَرْتَنِيْ .اوکه دهمدا ضميروڅخه يوتر اسم وروسته را سي نومعلومه ده چي همدا ضمير دخپل مخته اسم مالک دئ ، نوځکه هغه ته بيا اضـافي يعني ملکيـتي ضميرونه (possessive pronouns يا مجرور ضميرونه ) ويل کيږي . لـکه: قَلَمُهُ ، کِتَابُکَ ، کِتَابِيْ ، کِتَابُهَا .... .او که د همدا متصل ضميرونـو څخه يوضمير د(حرفِ جَر) وروسته راسي نو مجرور ضمير ورځنــي جوړيږي.لکه:فِيْهِ،لَهُ،اِلَيْهِ،اِلَيْنَا،بِکُمْ،عَلَيْهِ،مِنْکَ،مِنْهُ،بِهِ .... اوکه د(هُ) دضميرمخکي د (ي)يا زيرلرونکى حرف وي نوبيا(هُ)په(هِ)ويل کيږي.

---

او يوبل ضميرد (نِيْ) دئ د واحد متکلم دپاره يعني (ماته)او کله چي (نِيْ)دفعل وروسته راسي نوضميرمفعول اومنصوب کيږي:(جَاءَنِيْ).

---

اوس څوجملې دپښتو څخه عربي ته وژباړئ :

زما پلار،دهغه کار، دهغې ژبه ،ستا سر(نارينه)، ستا پزه (ښځينه)، زما لاس، دهغـوغاښـونه (ښځيـنه) ، دده ورور ، ستـاسو کتـاب ...

اوس څوجملې د عربي څخه پښتو ته وژباړئ :

اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ، اَنَا مَعَکُمْ ، رَزَقْنَا هُمْ ، اَنْذَرْتَهُمْ ، خَتَمَ اللهُ عَلىٰ قُلُوْبِهِمْ ، خَدَعُوْا اَنْفُسَهُمْ ، ذَهَبَ اللهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَکَهُمْ فِي ظُلُمٰتٍ...



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مـضارع



مضـارع داوسني روان فعـل اودراتلونـكي ورځنــيزفعل(حال-اومستقبل) څخه بيان كوي، اومضارع فعل هم د ماضـي په ډول غايب ،مخاطب او متكلم لري .

د مضارع جدول

| دفاعل حالت ← | غايب | مخاطب | متكلم |
|---|---|---|---|
| مفرد مذكر | يَذْهَبُ | تَذْهَبُ | اَذْهَبُ |
| تثنيه مذكر | يَذْهَبَانِ | تَذْهَبَانِ | نَذْهَبُ |
| جمع مذكر | يَذْهَبُوْنَ | تَذْهَبُوْنَ | نَذْهَبُ |
| مفرد مؤنث | تَذْهَبُ | تَذْهَبِيْنَ | اَذْهَبُ |
| تثنيه مؤنث | تَذْهَبَانِ | تَذْهَبَانِ | نَذْهَبُ |
| جمع مؤنث | يَذْهَبْنَ | تَذْهَبْنَ | نَذْهَبُ |

د (ذَهَبَ) دفعل په ډول د (ضَرَبَ )يا نورفعلونه هم جوړ يږي لكه:

(يَضْرِبُ، يَضْرِبَانِ، يَضْرِبُوْنَ، تَضْرِبُ، تَضْرِبَانِ، يَضْرِبْنَ)،( تَضْرِبُ، تَضْرِبَانِ، تَضْرِبُوْنَ، تَضْرِبِيْنَ، تَضْرِبَانِ، تَضْرِبْنَ)،(اَضْرِبُ، نضْرِبُ).

---

(يَفْعَـلُ، يَفْعَـلَانِ، يَفْعَـلُوْنَ، تَفْعَـلُ، تَفْعَـلَانِ، يَفْعَـلْنَ)، ( تَفْعَـلُ، تَفْعَـلَانِ، تَفْعَـلُوْنَ، تَفْعَـلِيْنَ، تَفْعَـلَانِ، تَفْعَـلْنَ)،(اَفْعَـلُ، نَفْعَـلُ).



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مـضـارع

## اوس څوپښتو جملې وعربي ته وژباړئ:

اَذْهَبُ ، يَعْمَهُوْنَ ، يَجْعَلُ ، اَعْلَمُ ، نَعْبُدُ ، تَشْعُرُوْنَ ، تَسْمَعِيْنَ، تَلْعَبِيْنَ ، يَلْبَسُ ، تَحْزَنَانِ ، يُؤْمِنُوْنَ ، يَذْبَحَانِ ، اَشْرَبُ،لَاخَوْفٌ - عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ ، يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ، يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ فِيْ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَالْمَوْتِ، يَنْقُضُوْنَ عَهْدَاللهِ مِنْ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ، اِنِّيْ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ، يَسْمَعُوْنَ كَلَامَ اللهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهُ ، نَحْنُ لَانَكْتُمُ مَااَمَرَنَا اللهُ.

## اوس څوعربي جملې و پښتو ته وژباړئ:

دوى پوهيږي (نارينه)، تاسويې واياست (ډېرنارينه)، داپوخت كوي، دوى پوخت كوي (ډيري ښځې) ، موږڅښو ، تـه ځې ، دوى دوه ځي، زه ستا اخبار وايم(جَرِيْدَةٌ)،ته چاى څښې، دى كالي پرېولي، دخليل، ملگرى ستاكورته ځي ، زه ستا خط وايم ، دوى دوه مسجد ته ځي .

د مضارع فعل په سركي بايد يوله دغوڅلوروتورو(اَ،تَ،يَ،نَ) څخه وي ،چي جمع يې (اَتَيْنَ) ده ، او (اَ) دفعل په سركي دمتكلم دپاره وي، لـكه: اَذْهَبُ = زه ځـم ، (تَ)-د غايب مؤنث دپاره لكه: هِيَ تَذْهَبُ= داځي، اود مخاطب مذكردپاره لكه:تَذْهَبُ =ته ځې،(يَ)- دغايب نارينه دپاره وي لكه: يَذْهَبُ = دى ځي،او (نَ)-د جمع متكلم نارينه او ښځينه د پاره لكه:نَذْهَبُ =موږ ځو.او...

اَذْهَبُ ، تَذْهَبُ
يَذْهَبُ ، نَذْهَبُ



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# مـضارع



دجملې په درس کي موماضي مجهول فعل (فُعِلَ)زده کړی ووچي د ماضي معروف (Past active) يعني (فَعَلَ) د(ف)حرف ته پېښ ،د (ع) حرف ته زېراو د (ل) حرف ته زوَر ورکول کېده ترڅوماضـي مجهول ورڅخه جوړسي،اوماضي مجهول هغه فعل ته و يل کيـږي چي ( فاعل ) په جمله کي معلوم نه وي ، او کـه وغواړو چـي معـلوم مضارع فعل ومجهول مضارع فعل ته واړوونودماضي مجهولپه ډول دمضارع اول حرف ته پېښ ورکوو،اوکه دمضارع داخيري توري مخ ته توري زوَرنه درلودئ نوبه زوَر ورکوو.لکه: دیَغْسِلُ څخه یُغْسَلُ، یُحْمَلُ : وړل کيږي ،، تُضْرَبُ: ته وهل کېږې، یُفْتَحُ:هغه خلاصيـږي ،اُنْصَرُ : ما ته کومک را کول کيږي.اوس څوجملي عربي ته واړوئ: و يل کيږي،ليکل کيږي،ماتيږي،پرې کيږي،وهل کيږي،منع کيږي، زه منع کيږم، کيږي .موږ ويلي وه چي په جمله کي به (فِعل ،فاعل، مفعول)وي، خوپه مجهول فعل کي فاعل معلوم نه وي نـوځکه بيا په جمله کي دفاعل ځای مفعول نيسي،او په همداځاي نيـولوسره ومفعول ته (نائِبِ الْفَاعِلِ) يا (قائم مقام فاعل) ويل کيږي . اوداچي مفعول دفاعل ځا ی نيسي نو پرمفعول هم د فاعل په ډول پېـښ راځي .مثلاً: ضُرِبَ الْوَلَدُ ،مُنِعَتِ الْمَرْاَةُ ،یُفْتَحُ الْبَابُ، جُعِلَ الْاَرْضُ

او اوس څوپښتو جملې و عربي ته وژباړئ :

رسۍ پرې کيږي،قلم ماتيږي،دالله(جل جلاله)ياد کيږي،ليکل کيږي...

# موصوف اوصفت



نېک سړی ، ربښتینی مسلمان ، لوی مسجد ، کوچنی کتاب ،امین نوکر ، زیرک زده کوونکی ، نېکه ښځه .

داټولي ( موصوف اوصفت ) جملې دي ، او که غواړو د همدغو جملو پښتو ژباړه وکړو نو د (مضاف اومضاف الیه )په ډول یې دپښتوترتیب ته اړوویعني:اوله کلمه وروسته کوو،اوهغه وروسته کلمه رامخته کوو اوبیا دواړو ته دوه پېښونه ورکوو.مثلاً :که د (ربښتینی مسلمان)دجملې ژباړه په‌عربي کوونودجملې کلمې مخته،شاته سره اړوواودهري کلمې ژباړه په عربي کوو،لکه : لومړی د مسلمان ژباړه په عربي کوو(مُسْلِمٌ) بیا د ربښتیني ژباړه په عربي کوو:(صادِقٌ)،او بیا دواړو ته دوه،دوه پېښونه هم ورکووچي جمله داسي جوړ یږي :(مُسْلِمٌ صَادِقٌ ). اوهمدا ډول د (نېک سړي) جمله ده :په عربي کي (رَجُلٌ صَالِحٌ ) و یل کیږ ي .

صفت: دیوشي دحالت و بیانولو ته وایي (ښه، تور،لږ،بد،سم اونور..) اوموصوف هغه څه یا چا ته و یل کیږي چي دهغه صفت وکړل سي.

اود (ربښتینی مسلمان )په جمله کي ربښتنتوب یوصفت اودحال بیان دئ ،او مسلمان موصوف دئ یعني د مسلمان صفت کړل سو ئ دئ .

او د عربي په (موصوف اوصفت) جمله کي لومړی موصوف او بیا صفت وي ، لکه : مَسْجِدٌ کَبِیْرٌ ،کِتَابٌ صَغِیْرٌ ، خَادِمٌ اَمِیْنٌ ... .

په پښتو جمله کي لومړی صفت بیا موصوف وي خو په عربي جمله کي لومړی موصوف او بیا صفت وي.لکه:طَالِبٌ ذَکِيٌّ - زیرک طالب.



سرچینه.http://www.taleemulislam-radio.com

# موصوف او صفت

اوهمدا ډول په عربي جمله کي لومړی مضاف او بيا مضاف اليه وي خو په پښتو جمله کي لومړی مضاف اليه بيا مضاف وي .لکه: (خَاتَمُ ذَهَبٍ) کي.او(موصوف اوصفت ) بايد دواړه يو ډول وي ،يعني څوداسي حالتونه سته چي موصوف بايد له صفت څخه فرق ونلري:

لومړی: که يو يې پېښ (ضَمه) ولري نو بل يې هم بايد پېښ ولري، لکه :په عادي حالت کي په ( رَجُلٌ صَالِحٌ )-(هٰذَا رَجُلٌ صالِحٌ) کي.

دوهم : که يو يې زوَر(فَتْحه)ولري نو بل يې هم بايد زوَر(فَتْحه)ولري، لکه :په کوم سبب داخليدو سره ( رَجُلاً صَالِحًا )-(رَاَيْتُ رَجُلاً صَالِحًا).

دريم : که يو يې زېر(کَسْرَه) ولري نو بل يې هم بايد زېر ولري .لکه: په کوم سبب داخليدو سره ( رَجُلٍ صَالِحٍ ) . ذَهَبْتُ اِلٰى رَجُلٍ صَالِحٍ .

څلورم : که يې پر اوله کلمه په يوه خاطر (اَلْ) راغلی وو نو پردوهمه باندي هم (اَلْ) راځي . لکه : که د ( رَجُلٌ ) پرځای ( اَلرَّجُلُ ) وي نوپر صفت يا دوهمه کلمه به هم (اَلْ) راځي .لکه :اَلرَّجُلُ الصَّالِحُ ، خو په (مضاف اومضاف اليه) کي پراوله کلمه (مضاف) باندي هيڅ کله هم (اَلْ) نه ز ياتيږي که څه هم پردوهمه کلمه (مضاف اليه) باندي ( اَلْ ) راغلی وي .لکه:(خَاتَمُ الذَّهَبِ) کي (اَلْ) پر (ذَهَبٍ) باندي .

پنځم : که لومړۍ کلمه (موصوف) مؤنث وي نو دوهمه کلمه (صفت) هم بايد مؤنث وي . لکه:( اَلْمَرْاَةُ الصَّالِحَةُ ) يا ( اِمْرَاَةٌ صَالِحَةٌ ).

شپږم : که موصوف واحد (يو) وي نو صفت هم بايد واحد وي .او په

# موصوف اوصفت

تثنيه اوجمعه حالتونو کي هم بايد همدا ډول موصوف اوصفت سره يوشان وي.لکه:مُسْلِمٌ صَادِقٌ ، مُسْلِمَانِ صَادِقَانِ ، مُسْلِمُوْنَ صَادِقُوْنَ . خوکه موصوف يوخاص ( اسم ) وي نو پر هغه اسم باندي ( اَلْ )نه راځي، ځکه چي همدا اسم له پخوا(مخکي) څخه يوخاص اسم دئ نو(اَلْ)د خصوصيت نه غواړي .البته دهمدغه موصوف ور پسې کلمه يعني صفت بايد خامخا (اَلْ) ولري .لکه:د (فاتح خالد) جمله که عربي جوړول غواړو نو (خَالِدٌ) د ( اَلْ ) بغيرځکه ليکو چي دخَالِدٌ اسم خپله يوخاص اسم دئ ،البته(فَا تِحٌ) بايد (اَلْفَاتِحُ) وليکو،لکه: خَالِدُنِالْفَاتِحُ. يا د (سپه سالارطارق) جمله په عر بي اړوو:لکه: (طَارِقُنِالْقَائِدُ) . . ... د مؤنث نښي په نومونو(اسمونو) کي درې دي.لمړۍ: (ة- تَاءُ مَرْبُوْطَة) لکه:صَالِحَةٌ،دوهمه:(یٰ -اَلِفٌ مَقْصُوْرَة يالنډ الف)لکه:سَلْمیٰ،سُعْدیٰ.. اودريمه نښه يې:(آ-اَلِفٌ مَمْدُوْدَةٌ يا کش الف)لکه :سَمْرَآءُ ، شقرآءُ..

اوس څود (موصوف اوصفت) پښتوجملې وعربـي ته واړوئ:

نېک پلار ، بخښونکی رب ، لو يه دروازه ، پراخه سړک، زړه رِساله ، کوچنۍ الوتکه ، تېزموټر ، لوی کتـاب ، ژوره والـه ، سخـت درد .

او اوس څو عربي جملې وپښتو ته واړوئ:

اَلصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيْمُ ، عَذَابٌ اَلِيْمٌ ، بَعُوْضَـةٌ صَغِيْرَةٌ ، رَزَقَهُـمُ اللهُ رِزْقاً حَسَناً ، بَلَاءٌ عَظِيْمٌ ، لايَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللهِ ثَمَناً قَلِيْلاً ، لَيْـلَةٌ مُظْـلِمَةٌ ، مَثَلُ كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ ، دَخَلَ مُحَمَّدُنِالْفَـاتِحُ عَاصِمَـةُ الرُّوْمِ .



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

# امر او نهي



امـر هغه فعل ته و يل کيږي چي هغه فعل کښې د چا څخه د کوم کار د کولو ضروري غوښتنه وسي . لکه: ولاړسه ، ووايه ، وليکه ....

اونهي هغه فعل ته و يل کيږي چي هغه فعل کښې د چا څـخـه د کوم کار دنه کولو ضروري غوښتنه وسي . لکه: مه ځه، مه وايه ، مه ليکه .

دامراونهي جدول

| دماموږحالت | امر | نهي |
|---|---|---|
| مفرد مذکرته | اِفْعَلْ | لا تَفْعَلْ |
| تثنيه مذکرته | اِفْعَلَا | لا تَفْعَلَا |
| جمع مذکرته | اِفْعَلُوْا | لا تَفْعَلُوْا |
| مفرد مؤنث ته | اِفْعَلِيْ | لا تَفْعَلِيْ |
| تثنيه مؤنث ته | اِفْعَلَا | لا تَفْعَلَا |
| جمع مؤنث ته | اِفْعَلْنَ | لا تَفْعَلْنَ |

اِفْعَلْ : مفرد مذکرته (ته وکړه) .
اِفْعَلَا : تثنيه مذکرته (تاسي دوه وکړئ).
اِفْعَلُوْا : جمع مذکرته (تاسي وکړئ).
اِفْعَلِيْ : مفرد مؤنث ته (ته وکړه).
اِفْعَلَا : تثنيه مؤنث ته هم (تاسي دوې وکړئ).
اِفْعَلْنَ : جمع مؤنث ته (تاسي وکړئ).

لَاتَفْعَلْ : مفرد مذکرته (ته مه کوه)
لَاتَفْعَلَا : تثنيه مذکرته (تاسي دوه مه کوئ)
لَاتَفْعَلُوْا : جمع مذکرته (تاسي مه کوئ)
لَاتَفْعَلِيْ : مفرد مؤنث ته (ته مه کوه)
لَاتَفْعَلَا :تثنيه مؤنث ته هم (تاسي دوې مه کوئ)
لَاتَفْعَلْنَ : جمع مؤنث ته (تاسي مه کوئ )

# امر او نهي

اوس څو عربي فعلونه وپښتو ته وژباړئ :

اِذْهَبْ ، لَاتَذْهَبْ ، لَا تَمْنَعُوْا ، لَاتَبْدَئِيْ ، اِفْتَحِيْ ، لَا تَبْحَثْنَ ، لَا تَسْمَعُوْا، اِضْحَكُوْا ، اِعْلَمُوْا ، اِسْمَعَا، اِعْلَمَا ، لَاتَلْعَبَا، لَاتَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ، لَايَرْجِعُوْنَ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ، لَاتَضْحَكُوْا، اِفْعَلُوْاالْخَيْرَ وَاتَّقُوْالله ،اِقْرَءِيْ وَلَا تَلْعَبِيْ ، اِهْبِطُوْا ، اِعْلَمُوْا اَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ،اِقْبَلُوْا الشَّفَاعَةَ وَلَا تَاْخُذُ الْعَدْلَ ، اُدْخُلُوْاهٰذِهِ الْقَرْيَةَ ، لَا تَتَبَدَّلُوْا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ .

اوس څوپښتو فعلونه و عربي ته وژباړئ :

بازار ته مه ځه ، مسجد ته ولاړسه ،صندوق خلاص کړه ، په چای کي بوره واچوه ،تاسي دوه مه خاندئ ،ته غوښي پخې کړه (ښځينه ته) تاسي دوه بازي مه کوئ ، تاسو ښځي د الله (جل جلاله) کلام واورئ.

تاسولوړ وليدل چي امرد (اِفْعَلْ) پر وزن جوړسوئ دئ.لکه:(اِذْهَبْ) خوامرهرکله د (اِفْعَلْ) پر وزن نه جوړ يږي بلکه کله د(اِفْعِلْ) پر وزن جوړ يږي. لکه:(اِضْرِبْ)، اوکله بيا امرد (اُفْعُلْ) پروزن جوړ يږي- لکه: (اُنْصُرْ) . اود امردهمدې درومختلفو وزنوجوړېدوسبب دادئ چي هر يو دخپل مضارع پرطريقه او تګلاره جوړ يږي، يعني د مضارع د(تَفْعَلُ)پر(ع) يا منځني حرف باندي زوَر، زېر يا پېښ هر يو راتلای سي،نو ځکه د امرمنځنی حرف هم دخپل مضارع د زوَر، زېر يا پېښ په ډول حرکت (زوَر، زېر يا پېښ) پيدا کوي. مثلاً:د (تَسْمَعُ) دمنځني حرف (م) حرکت زوَر- دئ. نوپه همدا ډول د(تَسْمَعُ) دامر اود نَهِيْ دفعلونو پرمنځني حرف (م) باندي هم زوَر لازمي دئ.لکه:



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# امر او نهي

(اِسْمَعْ، لاتَسْمَعْ) . اود (تَضْرِبُ) د (ع) سره سم د (ر) پرحرف باندي زېر (کسره) ده نوځکه يې بايد په امر کي هم د (ر) حرف زير ولري- لکه: (اِضْرِبْ). اود (تَنْصُرُ) د(ع) سره سم د(ص) پرحرف باندي پېښ دئ نوځکه يې بايد په امر کي هم د(ص) حرف پيښ ولري.لکه:(اُنْصُرْ) اود اچي د امر دفِعل اول حرف همزه الف ( ا ) کله زوَر کله زېر اوکله هم پېښ لري،نو ددې علت هم دهغه خپل مضارع دئ،يعني دمضارع د ما بينځي توري وحركت (زوَر ، زېر يا پېښ) ته په کتلوسره د امرد الف (ا)حرکت ټاکل کيږي. که پرهغه باندي پېښ وونود امر پرالف به هم پېښ وي ، مثلاً: د ( يَنْصُرُ ) څخه امر ( اُنْصُرْ ) جوړيږي ، اوکه د مضارع پر مابينځي توري باندي زېر يا زوَر وي نودهغو دواړو د امر پر الف (ا) به فقط زېر وي . لکه: اِضْرِبْ ، اِفْتَحْ ، اِسْمَعْ ، او نور ... .

دمضارع (تفعل)د(ع ) د برابر حرف وحرکت ته په کتلوسره د امرجوړول

| مضارع | د(ع) برابرحرف | دهمدا حرف حرکت | د امر د الف حرکت | دامرفعل |
|---|---|---|---|---|
| تَضْرِبُ | رِ | زېر | زېر | اِضْرِبْ |
| تَسْمَعُ | مَ | زوَرْ | زېر | اِسْمَعْ |
| تَنْصُرُ | صُ | پېښ | پېښ | اُنْصُرْ |

اِسْمَعْ-لَاتَسْمَعْ : مفرد مذکرته ،اِسْمَعَا-لَاتَسْمَعَا : تثنيه مذکرته ، اِسْمَعُوْا-لَاتَسْمَعُوْا : جمع مذکرته،

اِسْمَعِيْ-لَاتَسْمَعِيْ:مفرد مؤنث ته ،اِسْمَعَا-لَاتَسْمَعَا:تثنيه مؤنث ته ،اِسْمَعْنَ-لَاتَسْمَعْنَ :جمع مؤنث ته.



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

که غواړود مضارع څخه امرجوړکړو نواول : د مضارع حرف ختموو لکه: تَضْرِبُ څخه ضْرِبُ ، بیا:داخیري حرف پېښن په وړغندی بدلوو لکه : ضْرِبُ څخه ضْرِبْ ، بیا : گورو- که منځنـی یا د (ع) برابر حـرف زوَر یا زیر ولري نومخ ته زېرلرونکی همزه ( اِ ) ورکوو- لکه :اِضْرِبْ ، اِفْتَحْ... . اوکه د (ع) برابرحـرف د پېښن حرکت ولري نو بیا همزه تـه پېښن ورکوو- لکه : د تَنْــصُرُ څخه اُنْــصُرْ. خوکه د مضارع دحــرف د ختمولووروسته پاته اول حرف حرکت ولري-لکه:يُشَاهِدُڅخه شَاهِـدْ نو دلته د همزه (اِ) اړتـیا نـسته ، خو اخیـري حرف باید سـاکن سي . اوکه په ماضي فعـل کي د همدغو درو حروفو(و-ا-ي) څخـه یو راغـلئ وي نود امرد جوړولودپاره گوروکه : د (و)حرف دماضي فعـل په سـر کي وي نو هغه (و) ختموو بیا اخیـري حرف ته وړغنــدی ورکؤ -لـکه : د وَعَدَ څخه عِـدْ .د وَصَلَ څخه صِلْ ، د وَصَفَ څخه صِفْ ، یادمضـارع تَعِدُ څخه عِـدْ. د تَصِلُ څخه صِلْ ، د تَصِفُ څخه صِفْ. اوکه:دهمدغـو (و-ا-ي) څخه یو د فعل په منځ کي راسي نوهغه حرف ختموو-لکه:د قَالَ څخه قُلْ ،د نَامَ څخه نَمْ ،د سَارَڅخه سِرْ،یاد مضارع د تَقُوْلُ څخــه قُلْ ، د تَنَامُ څخه نَمْ، د تَسِيْرُ څخه سِرْ .اوکه:دهمدغو(و-ا-ي)څخه یو دفعل په اخیرکي راسي نوهغه حرف ختموو،همزه ورکوو-لکه:د دَعَا څخه اُدْعُ، دسَعیٰ څخه اِسْعَ،دقَضٰی څخه اِقْضِ.اومضــارع يې (تَـدْعُوْ، تَسْعَي، تَقْضِيْ)دي.اوپه عربي کي دساده درې تورولرونکوفعلونو دپاره یوازي د شپـږو فعلونـو زده کړه کفایت اوبـسنه کوي چي همدا جدول ته(صرف صغیر)و یل کیږي چي ور پکښي دهر یوه فعل ماضي مجهول



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com

## د ساده درې حرفيز (ف ، ع ، ل ) د فعلونو جدول يا د ثلاثي مجرد د بابونو

| باب | ماضي معروف | مضارع معروف | ماضي مجهول | مضارع مجهول | امر | النهي | اسم الفاعل | اسم المفعول | اسم الظرف | اسم الالة | اسم التفضيل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ضَرَبَ | ضَرَبَ | يَضْرِبُ | ضُرِبَ | يُضْرَبُ | اِضْرِبْ | لَاتَضْرِبْ | ضَارِبٌ | مَضْرُوْبٌ | مَضْرِبٌ | مِضْرَبٌ | اَضْرَبُ |
| نَصَرَ | نَصَرَ | يَنْصُرُ | نُصِرَ | يُنْصَرُ | اُنْصُرْ | لَاتَنْصُرْ | نَاصِرٌ | مَنْصُوْرٌ | مَنْصَرٌ | مِنْصَرٌ | اَنْصَرُ |
| سَمِعَ | سَمِعَ | يَسْمَعُ | سُمِعَ | يُسْمَعُ | اِسْمَعْ | لَاتَسْمَعْ | سَامِعٌ | مَسْمُوْعٌ | مَسْمَعٌ | مِسْمَعٌ | اَسْمَعُ |
| فَتَحَ | فَتَحَ | يَفْتَحُ | فُتِحَ | يُفْتَحُ | اِفْتَحْ | لَاتَفْتَحْ | فَاتِحٌ | مَفْتُوْحٌ | مَفْتَحٌ | مِفْتَحٌ | اَفْتَحُ |
| كَرُمَ-شَرُفَ | كَرُمَ | يَكْرُمُ | | | اُكْرُمْ | لَاتَكْرُمْ | كَرِيْمٌ | | مَكْرَمٌ | مِكْرَمٌ | اَكْرَمُ |
| حَسِبَ | حَسِبَ | يَحْسِبُ | حُسِبَ | يُحْسَبُ | اِحْسِبْ | لَاتَحْسِبْ | حَسِيْبٌ | مَحْسُوْبٌ | مَحْسَبٌ | مِحْسَبٌ | اَحْسَبُ |

او ماضي معلوم ( چي فاعل معلوم وي )، مضارع مجهول او معلوم يا معروف ، امر اونهي ،اسم فاعل، اسم مفعول ، اسم الظَّرْف (دفعل وخت يا ځای) ،اسمُ الاٰلة (دفعل د ترسره کولو وسيله يا اٰله) ، او اسم تفضيل ( لوړترينــــه اندازه د صفت ) سته . او دکَرُمَ باب مجهول فعل او اسم مفعول نه لري . او اسم الفاعل يې صفت مُشَــبَّه دي .

سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# واحد-تثنيه-جمع

په مخکي درسوکي مو فعل وپېژندئ چي کله به ديوه ، کله د دوو اوکله به د ډېرو دپاره استعمالېدئ، نوپه همدا ډول اسم هم (واحد ، تثنيه او جمع )لري . مثلاً : که يومسلمان وي نو(مُسْلِمٌ) و يل کيږي ، اوکه دوه مسلمانان وي نو (مُسْلِمَانِ) ، اوکه ډېر مسلمانان وي نو(مُسْلِمُوْنَ) و يل کيږي اوهمدا مرفوع حالت دئ.

که دهمدغواسمونو پر اخير توري باندي په کوم خاطر زوَر(َ) راسي نو (مُسْلِمٌ په مُسْلِمًا )،(مُسْلِمَانِ په مُسْلِمَيْنِ) او(مُسْلِمُوْنَ په مُسْلِمِيْنَ) و يل کيږي. اوهمدا منصوب حالت دئ .

اوکه دهمدغواسمونو پر اخيرتوري باندي په کوم خاطر زېر(ِ) راسي نو (مُسْلِمٌ په مُسْلِمٍ ) ،(مُسْلِمَانِ په مُسْلِمَيْنِ )او(مُسْلِمُوْنَ په مُسْلِمِيْنَ) و يل کيږي. اوهمدا مجرور حالت دئ .

يعني: د نصب (َ) او جر(ِ) په حالت کي د تثنيې اوجمعي دواړه حالتونه يوډول و يل کيږي . لکه چي لوړ يې مثالونه ليدلای سئ. اوکه پراسم باندي يوعلت (د زوَر يا زېرد راتلو سبب)داخل نه سي نو اسم په خپل اصلي حالت پا تيږي .لکه : ( مُسْلِمٌ ، مُسْلِمَانِ ، مُسْلِمُوْنَ ) . که دنارينه پرځای ښځينه اسم وي لکه: (مسلمانه نو دهغه اسم په اخيرکي ( ة ) ز يا تيږي لکه :(مُسْلِمَةٌ)،اوکه تثنيه (دوې) وي بيا د هغه اسم په پای کي د(ة) پرځای (ت)اوبيا (ا ن) هم ز يا تيږي.لکه:د(مُسْلِمَةٌ) خخه (مُسْلِمَتَانِ )،اوکه دا اسم



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

د دوو څخه تر ډیرو ښــځولپاره وي نوبيا دهغه مذکــراســم (مُسْــلِمٌ) ســره (ات)ز یا تیرِي لکه :(مُسْلِـمَاتٍ) . دښــه پوهــاوي لپاره پـه لاندي څوجملو کي اسمونه وګورئ :

عالمانوپه مسجدکي تقریر وکړئ:(خَطَبَ الْعَالِمُوْنَ فِيْ الْمَسْجِدِ)

ناصرد دوو مظلومانو کومک وکړئ :(نَصَرَنَاصِرٌ الْمُظْلُوْمَيْنِ) ، دوه خلګ بازار ته ولاړل : ( ذَهَبَ رَجُلَانِ اِلَى السُّوْقِ) ، مجيد ظالمان ووهل : (ضَرَبَ مَجِيْدٌ الظَّالِمِيْنَ ) ، ما په دوو قلمانو لیکل وکړه: (كَتَبْتُ بِالْقَلَمَيْنِ) ، د مسلمانانو څخه یو راغلئ : (جَاءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ) . او نور.. .

اوس څو عربي جملې پښتو ته وژباړئ :

ذٰلِكَ الْكِـتٰبُ هُـدًى لِّلْمُـتَّقِيْـنَ ،اُولٰئِكَ عَـلٰى هُــدًى مِّنْ رَّ بِهِمْ وَ اُولٰئِــكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ،وَيْلٌ لِّـلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِــهِمْ سَاهُــوْنَ ، وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ،اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ،اَعَدَّاللهُ لِلْــكَا فِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِـيْنًا ، اِنَّ اللهَ يُحِـبُّ التَّــوَّابِيْنَ ، اِنَّهُ يَغْــفِرُ لِلْمُؤْمِــنِيْنَ وَ يُـــدْخِلُهُمْ جَنّٰـــتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِـــهَا الْاَ نْــهٰرُ .

سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ






سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# اسم اِشاره

## اسم اشاره د نژدې لپاره

| | | | |
|---|---|---|---|
| هٰذَا | دغه يو (مذكر) | هٰذِهِ | دغه يوه (مؤنث) |
| هٰذَانِ | دغه دوه (مذكر) | هَاتَانِ | دغه دوې(مؤنث) |
| هٰـؤُلَاءِ | دغه ډېر (مذكر) | هٰـؤُلَاءِ | دغه ډيرې(مؤنث) |

هٰذَا الطِّفْلُ شَرِيْرٌ وَهٰذِهِ الْبِنْتُ صَالِحَةٌ.هٰذَانِ الطِّفْلَانِ مَرِيْضَانِ، وَهَاتَانِ الْبِنْتَانِ صَحِيْحَتَانِ ، هٰؤُلَاءِ الرِّجَالُ مُسَافِرُوْنَ وَ هٰؤُلَاءِالنِّسَاءِ مُقِيْمَاتٌ.

## اسم اشاره د ليرې لپاره

| | | | |
|---|---|---|---|
| ذٰلِكَ | هغه يو (مذكر) | تِلْكَ | هغه يوه (مؤنث) |
| ذٰنِكَ | هغه دوه (مذكر) | تَانِكَ | هغه دوې(مؤنث) |
| اُولٰئِكَ | هغه ډېر(مذكر) | اُولٰئِكَ | هغه ډيرې(مؤنث) |

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لِسَعِيْدٍ وَتِلْكَ الرِّسَالَةُ لِوَحِيْدٍ ، ذٰنِكَ الطِّفْلَانِ اَخَوَانِ وَتانِكَ الْبِنْتَانِ اُخْتَانِ . اُولٰئِكَ بَنَاتُ رَشِيْدٍ .

---

ظرف مكان ( دځايونو ځانګړي كلمې )

فَوْقَ -لوړ ، تَحْتَ-لاندې ، هُنَا -دلته ، هُنَاكَ-هلته ، اَمَامَ-مخته
خَلْفَ -شاته،لَدٰى-ورسره ، عِنْدَ -ورسره ، سَمَاء-اسمان ،اَلْاَرْضَ...



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com

# اضافي معلومات

## ظرف زمان ( دوختونوځا نګړي کلمې )

اَلْاٰنَ - اوس ، اَلْيَوْمَ - نن ، غَدًا - سبا ، بَعْدَغَدٍ - بل سبا ، اَمْس -پرون ، قَبْلَ الْاَمْسِ -بل سبا، قَبْلَ - وړاندي ، بَعْدَ -وروسته.

## د مضارع مجهول اود ماضي مجهول ترمنځ تو پير

| ماضي مجهول | مضارع مجهول | ماضي معروف | مضارع معروف |
|---|---|---|---|
| ضُرِبَ | يُضْرَبُ | ضَرَبَ | يَضْرِبُ |
| ضُرِبَا | يُضْرَبَانِ | ضَرَبَا | يَضْرِبَانِ |
| ضُرِبُوْا | يُضْرَبُوْنَ | ضَرَبُوْا | يَضْرِبُوْنَ |
| ضُرِبَتْ | تُضْرَبُ | ضَرَبَتْ | تَضْرِبُ |
| ضُرِبَتَا | تُضْرَبَانِ | ضَرَبَتَا | تَضْرِبَانِ |
| ضُرِبْنَ | يُضْرَبْنَ | ضَرَبْنَ | يَضْرِبْنَ |

په مضارع مجهول کي د مضارع حرف د پېښ حرکت لري او د (ع) برابر حرف يعني د (ر) حرف د زوَر حرکت لري .لکه : يُضْرَبُ . خو په ماضي مجهول کي بيا د (ا،ت،ي،ن ) په ډول اضافه توري نسته نو ځکه دفِعْل و اول حرف ته چي دلته د (ض) حرف دئ او په (فَعَلَ) کي د(ف) دحرف سره برابر دئ – د زوَر پرځای پېښ ورکول کيږي .لکه:ضَرَبَ ← ضُرِبَ .

## اسم فاعل ( هغه چي فعل يا کړنه ترسره کوي)

ضَارِبٌ ، ضَارِبَانِ ، ضَارِبُوْنَ ، ضَارِبَةٌ، ضَارِبَتَانِ ، ضَارِبَاتٌ.

## اسم مفعول ( هغه چي پرهغه فعل يا کړنه ترسره سوې وي)

مَضْرُوْبٌ، مَضْرُوْبَانِ ، مَضْرُوْبُوْنَ ،مَضْرُوْبَةٌ، مَضْرُوْبَتَانِ، مَضْرُوْبَاتٌ.



سرچينه:http://www.taleemulislam-radio.com

# اضافي معلومات



## كَلِمَاتُ الْاِسْتِـفْهَامْ ( چي د سواليه جملوپه سركي راوړل كيږي )

مَنْ - څوک ، مَا - څه (ډېرځله د اسم سره)، مَاذَا - څـه (ډېـرځله د فعل سره)،لِمَ/لِمَا- ولي ،كَمْ - څومره ،اَيْنَ -چيري ،كَيْفَ - څنگه، اَ/هَلْ - ايـا ، اَيُّ - كوم يـو ، مَتـىٰ - كله ،( اَيُّ شَيْ ءٍ)-څه شی،اَ يَّانَ- كله ، اَ نّـىٰ - دكومه /كله /څنگه .

### د يوه څخه بيا ترسلوشمېر ، د اونۍ د ورځو نومان او وخت (بجې)

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| وَاحِد | اِثْنَانِ | ثَلَاثَةٌ | اَرْبَعَةٌ | خَمْسَةٌ | سِـتَّةٌ |
| سَبْعَةٌ | ثَمَانِيَةٌ | تِسْعَةٌ | عَشَرَةٌ | اَحَدَعَشَرَ | اِثْنَاعَشَرَ |
| ثَلَاثَةَعَشَرَ | اَرْبَعَةَعَشَرَ | خَمْسَةَعَشَرَ | سِتَّةَعَشَرَ | سَبْعَةَعَشَرَ | ثَمَانِيَةَعَشَر |
| تِسْعَةَعَشَرَ | عِشْرُوْنَ | اَحَدٌوَّعِشْرُوْنَ | اِثْنَانِ وَّعِشْرون | ثَلَثَةٌوَّعِشْرُوْنَ | اَرْبَعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ |
| خَمْسَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | سِتَّةٌ وَّعِشْرُوْنَ | سَبْعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | ثَمَانِيَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | تِسْعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | ثَلَاثُوْنَ |
| اَرْبَعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | خَمْسَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | سِتَّةٌ وَّعِشْرُوْنَ | سَبْعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | ثَمَانِيَةٌ وَّعِشْرُوْنَ | تِسْعَةٌ وَّعِشْرُوْنَ |

**دشنبې تر جمعې پورې**: يَوْمُ السَّبْتِ ، يَوْمُ الْاِثْنَيْنِ ، يَوْمُ الْاَحَدِ، يَـوْمُ الثَّـلَا ثَاءِ ، يَوْمُ الْاَرْبِعاءِ ، يَوْمُ الْخَمِيْسِ ، يَـوْمُ الْجُمُـعَةِ .

پاو بالا لس بجې -اَلسَّاعَةُ الْعَاشِرَةُ وَالـــرُّبْعُ

لس نيمې بجـــې -اَلسَّاعَةُ الْعَاشِرَةُ وَالنِّصْفُ

پاوكم لس بجـــې -اَلسَّاعَةُ الْعَاشِرَةُ اِلَّاالــرُّبْعَ

لله الحمد ومن الله التوفيق




سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com